وهمچنان شماراامت وسطي ساختيم
تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشماگواه باشد

شهادت

(٤) صفحه

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نصرمن الله وفتح قريب

الله اکبر | الله اکبر | الله اکبر

فرمان الهي

لعنت (خدا) وبدترين جايگاه درانتظاركسانيست كه عهد وپيمان خويش رابعداز استواركردن آن باخدا ، مي شكنند وآنچه راخداوند به وصلش حكم نموده ، قطع مي نمايند.
(الرعد - ٢٥)

شماره مسلسل (٤٨٢)سال پانزدهم شماره (٢٨) چارشنبه (٢٣) ثور ١٣٧١ ه ش(١٢)ذي القعده ١٤١٢هه ق (١٣) مي ١٩٩٢م

وررحکمتيار د ننگرهارمجاهدينو اوښاريانوته په وينا کي وويل :

که دمليشي داقوت په خپل حال پاتي شي معنايي داده چي په افغانستان کي کمونيزم اوس هم مسلط دی

دروان کال دثور مياشتي په ٢٠ نيته دننگرهارولايت دجهادي شوري په بلنه دحزب اسلامي افغانستان مجاهد امير وروړحکمتيارننگرهارولايت ته لاړ ، وروړ حکمتيار په همدغه ورځ په جلال آباد ښار کي دروانو حالاتو په اړوند لاريښوونکي وينااووروله چي دادي دلوستونکو دخبرتيالپاره دهغي بشپړمتن خپروو.

وروړحکمتيار ترحمداوثناوروسته خپله ويناداسي پيل کړه :

زما دايمان او عقيدي ورونو ! زه ترټولو دمخه دننگرهار ولايت شهداوته په ځانگړي توگه اودټول افغانستان يونيم مليون شهداوو ته په عمومي دول دعاکوم . الله (ج) دي زمونږ دمؤمن ولس دغه قرباني قبولي کړي، اوددوي دزړه ارمان دي ترسره کړي.

دننگرهار ولايت دجهاد په دغه اوږده دوران کي لويه قرباني ورکړي ددوي دقرباني په نتيجه کي دادي نن ننگرهارآزاددي اودهغه کرغيرن بيرغ پرځاي نن داسلام بيرغ رپيږي.

ورونو! الله (ج) فرمايي چاچي پرالله اعتماداوتوکل وکړ نوخداي (ج) ورته کافي دي. يقيناً چي الله (ج) دهرکارلپاره اندازه اوښيته ټاکلي ده. هرڅه دالله (ج) په اراده کيږي. ورونو ! په (٧) دثورپه افغانستان کي دجنايتکارو کمونستانو ځواکودتاوشوه اوله هغي ورځي نه پس په افغانستان کي دجگړي خوف اووحشت ايښ شو (١٤) کاله مسلسل زمونږ په مدد بادي وحشت حاکم و .لويشت لويشت خاوره مو دشهيد انوپه وينه سره ده په هرکورکي شهيدو کوندي اويتيمان دي . داسي کورندي پاتي چي هغه کور ته مصيبت نه وي رسيدلي (١٤) کاله پس په همغه (٧) دثور الله کمونستانو ته خاتمه ورکړه . اوپه همغه ورځ مجاهدينو په کابل بوه پياوري حمله شروع کړه په همغه ورځ دکابل په بازارونو - اوسرکوتو کي شنه بيرغونه جگ شول اومجاهدين فاتحانه کابل ته ننوتل . لکه چي په ٦ دجدي روسانو زمونږ په ملك تيري وکړ (٩) کاله يعدپه همدغه (٦) دجدي دکرملين له پاسه سوربيرغ راکوزشو اودلويي سري وحشي امپراطوري آخري دور ختم شو. اوپه همدغه ورځ هغه لويه امپراطوري په پنځلسو مستقلو رياستو ووېشل شوه داتصادفي خبره نده (٧) دثورکمونستانو کودتا ء وکړه او (١٤) کاله بعد په (٧) دثوردهغوي اقتدارختم شو . ٦ دجدي روسانو زمونږ په ملك تيري وکړ اوپه (٦) دجدي دکمونيزم هغه لويه امپراطوري ختمه شوه .

ورونو ! نورکمونيزم دفن شو اونوروحشي طاقتونه له منځه تللي له دي نه بعد به دملت دخوښي اسلامي حکومتونه وي له دي نه پس به دکودتا گانو له لاري څوك قدرت ته نشي رسيدلاي .

نوردپوځي ارعسکري کودتا گانو دورختم شوي . دا (١٤) کاله زمونږملت په ويراوخوف کي تيرکړي.

اوس چي ددغوآزادوښارونو دعامو خلکو ځبري سري گوري چي دا(١٤) کاله يي دکمونستانو په تسلط لاندي تيرکړي، په سيماکي يي دذلت ،فقر، او ويري آثار معلوميږي. ورونو ! نور تاسو آزاد ژوندکوي. نور تاسي سرلوري پاسئ له دي نه بعد به دوسلي په زور په تاسو حکومتونه نه کيږي ديکتاتوري اواستبدادي نظام ختم شوي بيا به داسي نه کيږي چي پنځه افسران دپنځو ټانکونو سره ديوي عسکري قطعي نه ووځي

٣مخ

يك هليكوپترافغاني واردميدان هوايي پشاورشد

پشاور - نواي وقت :

يك فروند طيارهٔ هليكوپتر ساخت روسي كه ازجانب افغانستان به پشاورآمددرميدان هوائي پشاوربه زمين نشست . طيارهٔ متذكره روزدوشنبه درنگراني طيارات پاكستاني ازسرحدبه پشاورآورده شد. بعض منابع مي گويند كه اين هليكوپتريك شخصيت مهم افغاني را به پشاور آورده است ، امامسئولين ترافيك هوائي ازمعلومات دادن درين مورد اباورزيده گفته اند درين موردازحكومت طالب معلومات شويد .

تقررصدراعظم تايلند ملتوي گرديد

٢١ ثور :

درتايلند رهبران احتجاج كنندگان تقررصدراعظم غيرانتخابي جنرال سرچنداكراكايول راملتوي ساخته اند.

قواي مخالف احتجاج هاي مزيد را تا روز يكشنبه به تعويق انداخته اندتابه حكومت تايلند اجازه دهند تعديلات قبول شده درقانون اساسي راعملي كند اين تعديلات متقاضي آن است كه صدراعظم تايلند بايد يكتن ازاعضاي انتخاب شده پارلمان بوده وهم چنان ازنفوذ نظاميان درسياست تايلند كاهش بعمل آيد. پارلمان تايلند امروز جهت بحث درتغييرات پيشنهادي تشكيل جلسه داده است.

#####

دايران دبهرينوچاروو وزارت مرستيال آذربايجان ته ولاړ

تهران - دغويي ٢٢ نيته :

رپوټونه وايي چي دايران دبهرنيو چارو دوزارت مرستيال محمدواعظي آذربايجان ته تللي اوهڅه كوي چي دهغه هيواددناگورنو قره باغ په سيمه كي دسولي دټينگولو كوششونه له سره پيل كړي .

رپوټ زياتوي چي دخبروتفصيلات تراوسه نه دي خپاره شوي .

دمنځني ختيځ د سولي كنفرانس پيل شو

دغويي ٢٢ نيته :

دمنځني ختيځ دسولي كنفرانس دسيمه ايزو خاصوموضوگانوپه هكله چي هرارخيزي خبري پكي كيږي پيل شوي دي داقتصادي موضوع گانو په هكله دوي ورځني خبري په بروكسل كي پرانستل شوي په منځني ختيځ كي دوسلو پركنترول باندي بحث اوخبري به نن په واشنگټن كي پيل شي دمهاجرو په هكله غونډه چي په هغه كي داوبو

٤مخ

دربوسنياهرزگونياجنگ شديد ازسر گرفته شد

سرايكو ـ ٢١ ثور :

درجمهوريت سابق بوسنيا هرزگوينا يوگوسلاويا ازجنگ شديد گزارش شده است . گفته مي شود توپخانه سربي نژادان سرايكو پايتخت بوسنيا ودهات دوروپيش مسلمانان راتحت گلوله باري قرارداده است.

مامورين درسرايكو ميگويد درعمليات سربي ها با راكت وتوپ حداقل چهارنفركشته وچهل وپنج تن زخمي شده اند.

جنگ جاري دربوسنيا هرزگوينا ملل متحد وصليب سرخ راواداشته است خروج يكتعداد ازكارمندان خودرا ازشهر تحت مطالعه قراردهند.

###

په ارمنستان كي جگړه اوس هم روانه ده

ارمنستان - دغويي ٢٢ نيته :

دارمنستان دپايتخت ايروان څخه رپوټونه وايي چي جگړه دستراتيژيك ښارسوشياپه شااوخواكي روانه ده .

دغه ښاردشنبي په ورځ دارمنيانو لاس ته ورغلي، دارمنستان قواوي لگيادي چي ددغه ښار دنيولو حمله شنده كړي .

ارمنستان دملگروملتونو دامنيت شوري داضطراري غونډي غوښتنه كړي ترڅوناگارنوقره باغ ته دسولي ساتني قواوي ووليږي .

ارمني مقاماتوويل چي هغوي له دي نه زياته ويره لري چي تركيه ددوي په كورنيوچاروكي مداخله ونكړي .

###

معاون سرمنشي ملل متحد عازم ليبياگرديد

طرابلس ـ ٢١ ثور،

انتظار ميرود يك فرستاده ارشد ملل متحد امروز باماموريين ليبيادرباره حاضرنشدن ليبيا به همكاري درتحقيقات برحوادث بم گذاري در دوطياره مسافر بري مذاكره نمايند.

لاديميروتروفسكي معاون سرمنشي موسسه ملل متحد ديروز هنگام مواصلت بر طرابلس تبصره اي نكرد. آخرين بازيد اوازپايتخت ليبيا در ماه اپريل يعني يك هفته قبل ازتهديد تعزيرات ملل متحد بود. افراد مخفي ليبيا برېم گذاري درطياره هاي جت مسافربرامريكا وفرانسه كه درآن بيش ازچهارصد نفرهلاك گرديده اند متهم اند.

> اوس دي ته څه ضرورت نشته چي موږ انقلاب صادركړو

٣مخ

موافقه تشكيل حكومت ائتلافي در تاجكستان

٢١ ثور.

درجمهوريت تاجكستان حكومت ورهبران مخالف يكروز قبل ازيك مقابله مرگبار ديگرموافقت كرده كه يك حكومت ائتلافي راتشكيل دهند قراراست احزاب مخالف ازجمله بيست وچهار كرسي كابينه هشت كرسي به شمول كرسي هاي وزارت دفاع وداخله را حاصل كنند. انتظار مي رود اين توافق به بم بست جاري بين حكومت برياست نظر بايوف رهبركمونيست وگروه هاي مخالف به شمول فعالين اسلامي خاتمه بخشد. برحسب اين توافق نظربايوف ظاهراً دروظيفه اش بحيث رئيس جمهور جمهوريت تاجكستان ادامه خواهد داد.

گزارشهاازشهردوشنبه حاكيست كه احزاب مخالف هنوز مطالبه دارندكه نظربايوف ازجميع صلاحيت هاي خود منصرف گردد. اين توافق يكروزپس ازآن حاصل شد كه عساكر طرفدارنظربايوف بريك جمعيت احتجاج كنندگان گلوله باري نمود وحداقل هشت تن را بقتل رسانيد اين جمعيت درنزديكي مراكز پوليس امنيتي تاجكستان كه نظربايوف به آن پناه برده است اجتماع نموده بودند.

بنام خدايكه بي اندازه مهربان ونهايت بارحم است

مقاله

دسايس دشمنان ومسؤوليت ديني وتاريخي ما

وضع فعلي كشورماكدام امرغيرمترقبه نيست . آنائي كه از اين واقعيت چشم مي پوشند شايد تصوري هم ازدسايس استكبارجهاني در برابرمسلمانان نداشته باشند . حالت فعلي كشورمامستلزم آن بودكه رهبران جهادي مادرين باره پيش بيني مي داشتند وطرحي رامي سنجيدندكه بعد ازسقوط رژيم كمونستي بلافاصله يك ادارهٔ اسلامي جاي آنرامي گرفت تا يك خلاي اداري وسياسي دركشور ايجاد نميشد . گرچه حزب اسلامي درين رابطه بارها پيشنهادكردكه بايد به يك ادارهٔ مؤقت بين تنظيمهاي جهادي توافق صورت گيرد ولي هركه به زعم خود ازين پيشنهاد تعبيرهايي كرد وآنرا گويا خطري براي خودمي پنداشتند وچنان تصورمي كردند كه حزب اسلامي ازين پيشنهاد خود هدف بخصوصي بنفع خود داردامافقيقت آنطوري كه آنان تصورمي كردند نبود. حوادث اخيربوضوح نشان داد كه اهميت اين طرح تاچه حد بود واگر قبلاً روي يك ادارهٔ مؤقت بين تنظيمها توافق صورت مي گرفت، مشكلات امروزي كه كشورماراتهديد مي كند ، وجود نه مي داشت.

ازيك طرف مورال بلند مجاهدين ماوازجانب ديگر سرمايه نظامي كه امروزدركشورماموجوداست دشمنان اسلام ودشمنان ميهن ماراېران داشت تاعليه جهادماتوطيه بچينندوچنان وضعي رادرافغانستان ايجادكنند كه هم قوه بشري مجاهدين ازبين برود، هم قوت نظامي موجود درافغانستان مضمحل شود وملت افغانستان آنقدربافقروفاقه مواجه شود كه ديگرراهي نداشته باشند. جزاينكه يابه كشورهاي همسايه دست نيازدرازكند و ياهم به جهان غرب.

درين شكي نيست كه نيت سوء دشمنان دين وميهن ما در رابطه باتجزيهٔ افغانستان هم دست اندركاراست .

گرچه مزج اجتماعي افغانستان چنان است كه باوجود تلاشهاوحيله هاي دشمنان ، افغانستان تجزيه شده نميتواند زيرا اگر تنها صفحات شمال كشور و بالاخص مزارشريف را كه توطيه نافرجام ائتلاف نامقدس مسعود - دوستم ازانجا آغازشد.

ص٤

په مؤمنانه فراست ګردي توطئي شنډولاي شو

عبدالمالك "رحماني"

کله چي زموږ دمجاهد ملت دبې ساري مقاومت او استقامت او دخداي (ج) په نصرت دنړي لوي ځواک په ګونډوشو، اوتېرېوالو ته داخبره بيخي جوته شوه چي په افغانستان کي تور دکمونيزم ځاي نشته ژرياوروسته به په دغه هيواد کي دمجاهدينو اسلامي حکومت راځي او داسلام سرلوړي بيرغ به رپي دغه واقعيت په استعماري هيوادونو او دسيمي پرهيوادونو ډير ناندريه شان راپريوت ،که څه هم ظاهراً يي دافغان مجاهدينو د بريااليتوب هيله څرګندوله ،خوپه پټه يي داسي هلي ځلي کيدي چي څنګه او په څه ډول داسلامي حکومت دجوړيدو مخه په بشپړه توګه بنده کړاي شي او يا الرترلږه دمجاهدينو اسلامي حکومت په نيمه اسلامي بدل کړي، په دي کار کي ګن شمير هيوادونو چي مشري يي دنړيخوري امريکا په غاړه وه يوبل ته لاسونه سره ورکړل ،اوپه داسي تبليغاتو او حرکاتو يي شروع وکړه چي مجاهدين پري کمزوري او دنجيب دملحد رژيم عمر څه ناڅه اوږدشي، ترڅو دخپلو شومو پلانونو دعملي کولو لپاره وخت ترلاسه کړي.

دروسانو تر ماتي وروسته دنجيب دړژيم دځوکاله پاتي کيدو اصلي علت همدا ؤ چي استعماري ځواکونو اود سيمي ځيني هيوادونو ورسره دمرستي لاس ورکاوه.

امريکا اونوروا استعماري اولويديځوهيوادونو په دي خاطر په افغانستان کي اسلامي حکومت نه خوښاوه اونه يي خوښوي چي دخپلو ګټو ترلاسه کولو او اهدافو ته درسيدلو په وړاندي يي همداخنډ باله ، په ځانګړي توګه چي په اسلامي نړي کي د اسلامي خوځښتونو په راپورته کيدو سره دافکرهم کيږي چي افغانستان به ددغواسلامي تحريکونو دتغذيي اوتيکي ځاي وي ، اوله همدي ځاي څخه به اسلامي انقلاب صادريږي ، استعمارچيان پدي خيال دي چي په اسلامي هيوادونوکي داسلامي انقلاب برياليتوب ددوي ديکه تازي خوب له منځه وړي او بيانشي کولاي په نړيوالو ياندي پخپل سر حکومت وکړي ،همداوجه وه امريکا خپل هدف ته دررسيدوپه خاطر دسيمي هيواد ونه هم ورسره مله کړل ، دسيمي هيوادونه اونوراسلامي هيوادونه يي داسي تلقين کړل چي که په افغانستان کي دمجاهدينو دحکومت مخه ونه نيول شي نوکيداي شي ددوي حکومتونه له زوال سره مخامخ کړي. دامريکاداتلقين اوورسره داسلامي هيوادونه دغه ذهنيت چي افغانستان اوس په پوره عصري وسله سمبال اوفرد فرديي مسلح اوجنګ ديده دي که چيري له نجيب نه په امن اوسوله قدرت مجاهدينوته انتقال شي اواسلامي حکومت رامنځته شي نوکيداي شي دغه دوسلوانبارونه به ددوي دګټوپه وړاندي مشکلات راپيداکړي.

، اوافغانستان به دسيمي پرلاسي هيوادشي.

له همدي امله ټولو له امريکا سره ګډه داسي توطيه په کارواچوله چي دهغي په سبب وکولاي شي په افغانستان کي داسلامي حکومت په ځاي پوائتلافي اويا سيکولر حکومت راشي، په دي کارکي ټولو دملګروملتو موسسه چي ظاهراً بي طرفه اداره ده ،خوپه حقيقت کي دامريکادلاس اله ده ، راوړاندي کړه ، داسي فارمولونه اوطرحي يي را وړاندي کړي چي دوي ټولو پري دتصديق مهرولګاوه خو اصلاً مجاهدينو پري توافق نه شوکولاي ځکه چي په هره طرحه کي داسلامي حکومت لاره خنډ کيده اوداتئلافي حکومت بوي تري پورته کيده دغه کارله بوي خوادمجاهدينو ترمنځ ستونزي اواختلافات راپيداکړل اوله بل پلوه يي دملګروملتوځانګړي استازي بنين سيوان ته داموقع په لاس ورکړه چي له مختلفو ارخونو سره دخبرواترو په نامه دامريکا داصلي طرحي دپلي کولو لپاره لاره اواره اوپلويان پيداکړي،

اوپه څنګ کي نوروته هم دازمينه مساعده کړي چي ددي په اصطلاح سوله ايزوهڅوپه نامه خپل پروګرامونه پرمخ بوځي.

وروسته ددي ټولو ګډوهلوځلو نتيجه داراووتله چي له يوي خوا بينن سيوان دا اعلان وکړ چي نجيب دقدرت انتقال ته تيار دي ژرترژره دي مجاهدين يوه شوري ورته معرفي اوکابل ته دي وليږي ،خوله بل پلوه له دي خبري سره جوخت پداسي حال کي چي بنين سيوان لا په کابل کي ودرژيم ديوځپانو ، دولتي مليشو ، دوطن ګوند اود شوراي نظارترمنځ پوائتلاف رامنځته شو ، نجيب دملګروملتو دفترته پناه يوړه له بوي خوابينن سيوان نجيب تيرته کړ چي دقدرت انتقال ته تيارو اوله بل لوري ديوځپانو شوري داسي څرګنده کړه چي نجيب اصلاً نه غوښتل قدرت په سوله ايز ډول انتقال کړي.

نوځکه يي تيښته وکړه دادي اوس موږ ديته اماده يو، په دي کارسره دوي ځان تيرته کوي اودمجاهدينو ديوي دلي ته سند ترلاسه کوي څوکه سړي متوجه شي نوديرژر په داخبره درک کړي چي دادهغه سازش وروستي کړي وه چي په افغانستان کي داسلامي حکومت دجوړيدو دمخنيوي لپاره په کاراچول شوي وه ،اوکه نه نو کوم سليم عقل داخبره منلاي شي چي يو رئيس جمهور دي دومره وخت اولاره پيدانه کړي ،چي له هيوادونه ووځي ، اويادي پوځل وتښتي خودعسکروله خوادي بيرته جمهوري رياست ته راوستل شي. جمهور رئيس دي شي اويا دي په پټه يو دفترته پناه يوسي ، دادرامه هغه وخت بيابه رسواکيږي، چي درژيم دامنيت مسئول جنرال يارمحمد داخبره په ډاګه کوي چي دوطن ګوند اجرائيي دنجيب په شمول داپريکړه وکړه چي دشوراي نظارسره په ائتلاف کوي اوحکومت به ورسره شريکوي .نوبيا څنګه داکيداي شول چي تيښته وکړي، ځيني کتونکي خوداخبره هم کوي چي همدااوس هم دملګروملتوله دفتر څخه نجيب ،خپلو پرچمي ملګرو ،پوځيانو او دمليشي قواوته دستوروونه ورکوي، په هرصورت دالويه اوخطرناکه توطيه اوداستعمار وروستي حربه ده که څه هم د حزب اسلامي غوڅ او جهادي دريځ دغه توطيه له اصلي شکل نه اړولي اوډناکامي په لور روانه ده ، ولي بيا هم که زموږمجاهد مشران له تدبيرڅخه کاروانخلي سختي ستونزي راولاړولاي شي. دغه توطيه که له بوي خواداتئلافي حکومت له شکل نه راوتلي ،ولي هغه تعهدات چي دائتلاف شاملو خوا وو بوله بل سره کړي دسمت اونژاد مشکل رامنځته کوي دغه خبره دګلم جم مليشي د قوماندان رشيد دوستم په وروستي مصاحبه کي ښه څرګنده ده ، دوستم اوس زيارباسي چي باپه حکومت کي برخه ورکړي شي اويا افغانستان دنژاد اوژبي په اساس فدرالي حيثيت غوره کړي اوپه ازبک ،هزاره ، تاجک اوپښتون دي وويشل شي ، اويادي حکومت دهغه مقابلي ته ځان تيارکړي.

دغه کارکه دافغانستان دجغرافيايي جوړښت اودملتونو دتقسيم په اساس ناممکن دي ، ولي دلانجي داوږديدو لپاره ستونزي راولاړوي زموږجهادي مشران له همدي پيله بايد له تدبير ،مؤمنانه فراست اوخبرکتياڅخه کارواخلي ،جهادي ځواکونه سره يوموټي شي پريږدي چي ملحد اوکمونست ځواکونه اومليشي له فرصت نه په استفادي سره مشکلات راپيدااوافغانستان په کورني جګړه اخته کړي ، په ځانګړي توګه چي ځيني ګاونډي هيوادونه يي هم ترپردي لاندي ملاتړکوي.

فاعتبروايااولي الابصار

که دمليشي داقوت په خپل حال پاتي شي معنايي داده چي په افغانستان کي . . .

اوقصرریاست جمهوري محاصره کړي ،راديو اشغال او نوي انقلاب اعلان کړي.

نوريه حکومتونه ستاسو په خوښه جوړيږي هغه ځوک به حکومت کوي چي تاسو وريباندي اعتماد کوي. ددي نه پس به اسلامي منتخب حکومت [..] دولس خدمت کوي . کمونستان د[..] [..]ان ؤ نوردهغوي د آقايي اويادارۍ [..] ختم شي .

هغه چا چي دخپل ملك دآزادي لپاره يونيم مليون شهيدان وركړي وي بيابه يوظالم حاكم ته سرټيټ نكړي.

"مستبدحاكم به ته مني دپيامبر(ع) ددي قول ترځنګ چي دقوم رئيس دهغوي خادم دي ، ددي نه وروسته به رؤسا ،زعماو اوزمامداران دقوم خدمتګاران وي. زه تاسوته اطمينان دركوم چي ان شا الله لدي نه پس به هغه څوك حكومت كوي چي تاسويي وغواري دكمونستانو ټولي توطيي اوددښمنانو ټول سازشونه دجهاد په خلاف نورشنډشوي دي، په (٦) ثورچي په كابل كي څه وشول ،داد كمونستانو آخري تلاش ؤ.

هغوغوښتل چي يوحل بيا په افغانستان کي دجنګ اور بل کړي. دوي ائتلافي حکومت غوښتل ، داسي حکومت چي په هغه کي رشيددوستم وزيردفاع وي ،هغه کي به وکيل وزيرخارجه وي ، په هغه کي به آصف دلاورلوي درستيزوي. هغوي ددغسي پوائتلافي حکومت غوښتونکي ؤ.

ددوي کوښش داوچي ټول (قوتونه) دي په خپل واك كي واخلي دكابل امنيتي كمربند بايد دسابق په شان ددوي په لاس كي وي دكابل - جلال آباد لويه لاراوټول اردو ،دکابل ګرديز لويه لار او ټول اردو ،كابل - حيرتان لاراوهيواد په ګرت ګوټ كي چي يوځ كوم قطعات دي هغه بايد روغ رمټ سالم پاتي وي اوائتلافي حکومت ساتنه وکړي.

ورونو ! مجاهدينو داتوطيه شنډه کړه ټول ولايتونه آزادشول زموږ بيدارومجاهدينو ددښمن دغه آخري توطيه شنډه کړه . ديوځ ټول قطعات دمجاهدينو په لاس فتح شول . دکابل نه امنيتي کمربندونه يويربل پسي مات شول ، ددښمن مطالبه داوه چي موږ پرکابل حمله ونکړو موږ پوهيدلوچي هغوي وخت ته ضرورت لري چي خپله توطيه عملي کړي. موږ هغوي ته اخطاروکړي ؤچي تر(٦) دثورماښام پوري بايد له اقتدارنه اخراشي.

اودکابل دشاوخواقوماندانانو ته بايد اقتداروسپارل شي اوکه نه موږ به مجبور يوچي پرکابل حمله پيل کړو په پنځم د ثوردکابل ولس پوره شو ټول دولتي تاسيسات اودفترونه يي ونيول.

قصرریاست جمهوري يي اشغال کړ صدارت ته داخل شول ، وزارت خاني يي ونيولي اوپرتولو سلام پيرغ اوچت شو، خلك سرکوسرت راووتل ستري ستري مظاهري يي وکړي اودمجاهدينود فتحي اوبري ورځي ورسيدي هري خواته دتکبيرناري دخوشحالي دزي دي ولي مکاردښمن دي ته نه وتيارچي په آساني تسليم شي هغه دانشوزغملاي چي مجاهدين دي سرلوري اوفاتح کابل ته ننوځي اوپدي آساني دي مسئله حل شي اواسلامي انقلاب دي بري ته ورسيږي.

وکړچي نورجنګ پاي ته رسيدلي.

نوردجنګ ضرورت ختم شوي دمجاهدوتنظيمونو ترمنځ موږه مؤقت حکومت اوقيادي شوراي اتفاق کړي غوښتل موچي دقيادي شورا مؤقت حکومت داموروزمام په لاس کي واخلي اوپخپل کار پيل وکړي.

موږ ديو حزب حکومت نه غوارو ، دوسلي په زورپه خلکو حکومت کول نه غوارو . دمجاهدينو مؤقت حکومت دي راشي اوهغه دي عملاً په کارپيل وکړي په شپږومياشتو کي دي ددولت درئيس

دهمدي لپاره دوي په همغه منطقي يونه راواوړول چي دننګرهاراوډ پکتيا خلك يكي اوسيدل . دا په زرګونو كډي چي دكابل نه دپكتيا اوننګرهارخواته هجرت كوي دادچاله لاسه. تاسي لاړشي دهغوي نه پوښتنه وكړي چي په هغوي باندي يونه چاواوړولي. دهغوي كوروته په اوراګان چا نړولي دي. موږ هم كولاي شوچي پركابل باندي بمباري وكړو دښمنڅ هوايي ميدان زموږ په لاس كي دي اكثر فوځي قطعات دكابل په شاوخواكي زموږ په لاس كي دي موږ بالمثل اقدام كولي شو

> هغه حاجي دخپل ملك دآزادي لپاره يونيم مليون شهيدان وركړي وي هغه به بيا هيڅ ظالم حاكم ته سرټيټ نه كړي.

لپا[ره] انتخابات وشي اوپه يوکال کي دي دمستي شوراي لپاره انتخابات وشي.

دنجي دورځي (ثورد پنځم تاريخ په ماښام) زموږ مطبوعاتي کنفرانس پردي مطالبو شامل ؤ. ولي مکار دښمنان په هغه قدم کي چي په کمين کي دي . هغو توطيه جوړه کړه . کابل کي يي جنګ پيل کر غوښتل يي چي مجاهدين بدنام کړي غوښتل يي چي دغه جنګ داقتدار لپاره دتنظيموترمنځ وښيي ويل يي دادي مجاهدين کابل ته راکوزشول.

دمجاهدينو ترمنځ جګړه ده . موږ دغه اعلان وکړ چي دکابل په ښارکي بايد جنګ ونشي ، که څه هم دمليشو په خلاف دولس نفرت اوکرکه دومره ده چي دروسانو په خلاف دومره کرکه نه وه اودهمدي په وجه دکابل په جادواوسړکونو کي دمليشي له خوا په زرګونوکسان په قتل ورسيدل ، موږ اعلان وکړ چي دکابل ښارمنځ کي بايد جنګ متوقف شي.

ولي موږته خپل ايمان اوعقيدي ترحم اوعاطفي دا اجازه نه راکوله چي دخپل ولس په خلاف وسله استعمال کړو.

اوس موږ غوارو چي دمليشو قوتونه دکابل نه ووځي اودادفردفرد مطالبه ده .

دادټول افغان ولس مطالبه ده ،دادټولو مجاهدينو غوښتنه ده داهسي عادي مليشه نده داهغه مليشه ده چي داڅو کاله مسلسل دافغان ولس په خلاف جنګيدلي.

روسان هلته دافغانستان څخه ووتل چي دمليشي منظم قطعات يي جوړکړل اودوي په اطمينان دافغانستان نه ووتل هغوي ګمان کاوه چي دمليشي داقوت کولي شي دکمونستانو دتسلط نه په افغانستان کي دفاع وکړي ددوي په اطمينان دافغانستان څخه ووتل .

دمليشي داقوت اصلاً دسابقه يوځ ځاي نيولي فوځ لاځوکاله دمخه ختم شوي ديوځ قوت نوريه جنګ کي ختم شوي و

دننګرهار والي محترم حاجي عبدالقديردحزب اسلامي له اميرمجاهد وروږ حکمتيارسره يوځاي ليدل کيږي

مسلح مجاهدين بايد دکابل په شاوخواکي موضع ګاني ونيسي هدف موداووچي پدي ترتيب دمليشي قوتونه مجبور کړو چي دکابل نه ووځي . دښمنانو داتبليغات کول چي داداقتدارلپاره جنګيږي. زه پدي منبراعلان کوم چي نه مودمخه جنګ غوښتي اونه په آينده کي غوارو چي دټانك په زور په ملت حکومت وکړو . هرحکومت چي په افغانستان کي راځي بايد دملت په خوښه جوړشي بايد منتخب حکومت وي ، بايد دکودتاګانو حکوت دتل لپاره ختم شي . هيڅوك نشي کولي چي دوسلي په زوربرملت باندي حکومت وکړي.

ديوځ افرادواوافسرانو صرف دخپلو قرارګاوو ساتنه کوله او هلته يي دفاعي موقف درلوده دادمليشي قوتونه ؤ چي په هره معرکه اومحاذکي د جنګ لپاره اماده شوي وولويي لاري دوي نيولي دي مزار - حيرتان ، ايبك ،پل خمري چاريكار، اوبدي اوږده مسيركي قطعات ددوي پراته وو.

دمليشي داقوت عادي مه ګني که داقوت په خپل حال پاتي وي معني يي داده چي کمونستان اوس هم په افغانستان کي مسلط دي که اوس ددوي پاتي کيدل ومنونو دهغو شرايط هم منو.

له هغو سره توپونه اوټانکونه دي ترټولو نه هغه زيات مسلح دي ديوځ نه هغه زيات مسلح دي ،ترپوځ نه د هغوي روابط زيات مستحکم دي ، دقوم اوژبي په بنياد دهغوي سره قوتونه دي ، دهغوي

> دادفردفرد غوښتنه ده چي مليشيايي ځواکونه دي له کابل څخه ووځي

داسلام دښمنانو يوبل ته لاس ورکړ غوښتل يي چي آخري دسيسي نه استفاده وکړي په کابل کي وينه توي کړي هلته جنګ پيل شي ، شمال نه يي دمليشي قوتونه راوستل (٥) دثورسوقيات شروع شول تر (٦) دثورپوري په کافي اندازه کسان دوي کابل ته راوستل اودخواجه رواش هوايي ميدان نه هغوي دکابل ښاريانو په خلاف حمله پيل کړه ، توپونه اوټانکونه يي ښارته وايستل اوهغه دفترونه چي دولس په لاس كي ؤ هلته دكلاشنكوف نه پرته بل هيڅ شي نه وو. داكلاشنكوفونه هغوي له همدغوښاريونو نه ترلاسه كړي ؤ.

دهغوي په خلاف توپونه اوټانکونه استعمال شول. ترڅو دا دفاتريبرته اشغال کړي. موږ ټولو مجاهدينوته ووېل چي په کابل کي بايد جنګ ترسره نشي ، موږ ونه غوښتل چي دکابل ښاريانو ته تاوان ورسيږي.

په پنځم دثورانقلاب داسي بري ته رسيدلي چي يوه قطره وينه په کابل کي نده توي شوي . صرف دخوشحالي دزي شوي ، دجنګ لپاره يوډزهم ندي شوي . دجنګ نه پرته دويني دتوييدونه بغير کابل فتح شوي په همغه ورځ موږ اعلان

دجبراوزور حکومتونه بيايه اقتدارترلاسه نکړي ، موږ که دکابل په شاوخواکي خپل قوتونه ځاي پرځاي کړي ددي نه هدف دا ندي چي موږ به پرکابل دحملي اقدام لرو موږ په کابل کي جنګ ته ادامه ورکولي شو.

موږ خپل مسلح قوتونه په کابل کي دننه ځاي پرځاي کړي دي ولي موږ نه غوښتل چي خلك اوولس په قتل ورسيږي.

هغه خلك چي پورته شول په (٥) دثوريي قيام وکر اوټول دفترونه يي اشغال کړل موږ به څنګه جرئت وکړو چي دهغوي په خلاف څه ووايو ولي مليشو جنايت وکر هغوي ګن شمير ناخبي داوراګان ، ښاريو بي ام (٢١) توپونو اوټانکونو په ذريعه وويشتل په زرګونوخلك مجبورشول چي دپکتيااوننګرهار خواته هجرت وکړي.

په همغه منطقويي يونه داورول چي دننګرهاراودپکتياخلك يکي اوسيده دزيني تعصب په بنا .

اوس چي کمونيزم ختم شو . ځيني تعصباتو اوقوميت ته راګرځيدلي دي. غواري چي دقوم ترمنځ فتني راپيدا کړي.

مخامخ يو. موږ سره مرسته وکړي اوپدي اعتراف کوي چي په کابل کي دمليشي قوتونه په اقتداردي. همدا وجه ده اوس ټول تنظيمونه اوټول مجاهدين غواړي چي دمليشي قوتونه دکابل نه ووځي.

موږوايو چي دکابل امنيت بايد دمجاهدينو په لاس تامين شي دمليشي خالي ځاي بايد مجاهدين ډك کړي.

ننګرهار کي ولي امن دي ؟ ددي نه معلوميږي چي دمجاهدينو قوتونه په ننګرهارکي قدرت ترلاسه کړي.

دننګرهار قوماندانانو جهادي شوراي جوړه کړي .اوهغوي دننګرهار جلال آباد په امنيت کي پوره سهم لري.

دلته ويره اوخوف نشته جنګ پاي ته رسيدلي اودجنګ بيارمنځ ته کيدو نه خلك ويره نلري. وجه يي داده چي دلته دمليشو دغسي قوت ندي پاته چي هغه دمستقل قوت په حيث دپاتي کيدو اراده ولري.

موږ همدا پيشنهاد کريدي چي دکابل دشاوخواقوماندانان شوراي جوړه کړي اواقتداردي قوماندانانوته وسپاري دکابل امنيت دي همدوي ونيسي ،که داکارکابل ته شوي واي نوکابل کي دمجاهدينو ترمنځ اختلافات نه راپيداکيدل ، زموږ جنګ دمليشو په مقابل کي دي دا بي يي

> زه دااعلان کوم چي نه مومخکي جنګ غوښتي ،اونه په آينده کي غواروچي دټانك په زورپرخلکو حکومت وکړو.

سي او صداي امريکا درواغجن تبليغات دي چي وايي په کابل باندي مجاهدين راکټ وراوري.

اوګويا دمجاهدينو ترمنځ خپل منځي جګړه ده او هغه هم داقتدارله پاره، دا درواغجن اوغلط تبليغات دي ،جنګ ممث[..] پيل کړي دکابل ولس په خلاف جن[ګ] پيل شوي ، په کورونو باندي يي بمو[..] دروړلي زموږ ، اودجمعيت ترمنځ حتي په پيښورکي داوريند موافقه شوي ولي دمليشي جنرالانو هغه ردکړي.

دجمعيت مشر په صريحوالفاظو په پيښور کي اعلان وکړ چي په کابل کي جنګ د حزب اسلامي اومليشي ترمنځ دي.

دجمعيت اوحزب اسلامي ترمنځ هيڅ نشته ، زه دهمدغه استيج نه دااعلانوم چي زموږ جنګ دکمونستانو له بقاياو سره دي موږ غوارو چي دکمونستان بقاياختم کړو. ددوي اقتداردتل لپاره ختم کړو.

هغه چي دنجيب ترځنګ ولاړو اودملت په خلاف جنګيدل صحيح ده چي هغوي ته عفوه وشوه ولي هغه بياهم دافغان ولس دسرنوشت دټاکلو لپاره ګمارل مخصوصاً هغه افسران چي په

> هرحکومت چي په افغانستان کي راځي بايد د ملت په خوښه وي.

کابل کي يي ددي جنګ قومانده ورکري داغلطه ده دابايد محاکمه شي.

نه داچي دهغوي تقديراوتمجيد وشي زه هغه چاته حيران يم چي وايي دنجيب حکومت دي مليشو راپرځولي. پداسي حال کي چي دوي ترآخري مرمي پوري دنجيب دحکومت ددفاع لپاره جنګيدل.

له همغه ورځي نه چي دامليشي جوړي شوي ترنن پوري دافغان ولس په خلاف جنګيږي چوروچپاول ،غلا، دخلکو په ننګ اوناموس تيري کول ددوي کار دي له هغو خلکو نه چي له کابل نه هجرت

دحکمتيارصاحب دجلال آباد دغونډي يوه ګوښه

سالم روغ رمت اوسلح پرينبودل معني بي داده چي نوروفتنو ته لاراواروو.

ځيني مشران راځي اوموږ ته داوايي چي موږ په کابل کي دکودتا ويره لرو اوهغوي اوس پوهيدلي دي چي زموږ دريځ په حقه دي . اوس دي متوجه شوي دي چي په کابل کي دمليشو حکومت دي، اوهغه له مانه همدامطالبه کوي چي موږ ديومشکل حالت سره

کوي پوښتني وکړي چي دغه مليشي له تاسوسره څه کړي دي نه يوازي دکابل نه دهغوي ويستل پکاردي بلکه شمال نه هم بايد دغه مليشيا وي وايستل شي دټولو مجاهدينو بايد همدا مطالبه وي چي دغه مليشي دي منحل شي دهغوي سرباندي لاس کښول تمجيد کول داځوك نشي تحملولاي .زموږ لمړي مطالبه داده چي دکابل نه دي مليشي قوتونه ووځي

اودکابل امنيت په مجاهدين خپله تامينوي.

موږدمجاهدينو لپاره چي کومه قيادي شوري جوړه کړي اوکوم مؤقت حکومت ددي ملاترکوي سره ددي چي ددي په نسبت نه ډيرملاحظات لرو اوګومان موداده چي داغيراصولي فيصله ده زموږ په غياب کي جوړه شوي

قيادي شوري دي پخپل کارشروع و کړي داقيادي شوراي دي دولت تشکيل کړي مؤقت حکومت دي خپل کارپيل کړي. وزارتونه دي فعال کړاي شي خوداټوله اداره دي ترخپل ټاکلي ميعاد پوري وي موږ وايو چي شپږمياشتي بعدبه څه کيږي ؟ جنګ اوملت په خلاکي پريښودل ، داقتدارپه سرکشمکش اوکه څه ؟ زموږ پيشنهاد دادي چي سرله اوسه بايد د(٦) مياشتو بعد مرحلي بند ويست وکرو پيشنهاد وکرو چي په دغو شپږو مياشتوکي دملك زعيم اومشر وټاکل شي هغه چا ته بايد حق ورکړل شي چي کلي کورونه يي وران شوي د (١٤) کلن جنګ ټولي ستونځي او کړاونه يي ګاللي وي. دزوي ،وورور ، پلار اونور شهادتونه يي منلي وي.

ددغه ملت په خوښه دي زعيم اومشر وټاکل شي موږ وايو چي په

شپږومياشتو کي دي ددولت درئيس لپاره انتخابات وشي همداراز ديوکال په منځ منځ کي دي يوه منتخبه اسلامي شورا انتخاب شي.

موږ پيشنهاد کړي چي که په دغو انتخاباتوکي هري دلي يا ائتلاف دملت داکثريت اعتماد ترلاسه کر هغه دي حکومت جوړکړي اوداهم منو چي دانتخاباتوپه نتيجه کي دي په شوري اوحکومت کي ټو تنظيمونه دخپلو [..] په تناسب برخه ولري.

هغه چي زيات دي په کابينه کي دي زيات اوچي څا کمي راي ترلا[سه] [..] دي په کمه قناعت وکړي موږ د هم متوجو پرچا دملت اکثريت اعتماد وکر هغه به دي کامل اختيارات وسپارل شي هغه دي حکومت جوړکړي هغه ته دي ديځوک و لپاره موقع ورکړشي چي ملك اداره کړي اودملت خدمت دي وکړي. نوردي پنځه کاله ورته صبروکړي.

زموږپيشنهاد همدادي ځوکه تنظيمونه خامخا په حکومت اصرارکوي وزارت درلودل شرط ګني اونه قانع کيږي موږ په دي هم ورسره موافق يو چي تنظيمونه دي په حکومت کي د متناسبي نمايندګي په اساس برخه ولري موږ دخپل ملك دولس

دخيرلپاره دغه خبره کوو.

له بلي لاري دافغانستان مسئله نشي حل کيدلاي زه داخبره بيا هم اعلانوم چي موږ داقتدارلپاره جنګ ناجايز ګڼو اوله دي نه په کلکه ډډه کوو . موږ دوسلي په زور قدرت ته رسيدل نه غوارو ، زموږ عقيده داده چي په زوروکوم حاکم اوزعيم تحميل شو دهغه زعامت قيادت اوامارت غيرشرعي دي، چي جبرظلم او اکر ه په خلك حکومت کوي دهغو حکومت غيرشرعي دي موږ دزعيم لپاره بيعت شرط اولازمي ګڼو.

ترڅوچي دزعيم اوامپرلپاره څرګندبيعت نه وي شوي دهغه امارت شرعي نه دي .

موږ وايو له دي نه پس بايد ملت دتوري اوټوپك لاندي دويري اوخوف او ذلت ژوند ونه کړي .

بايد چي ټول اسلامي ځواکونه يوبل ته لاس ورکړي ،ترڅويوقوي حکومت جوړکړي ، داسي حکومت چي داملك اداره کړي، داسي حکومت چي دشراوفساد مخه ونيسي ، داسي قوي حکومت چي له بهرنه د توسعه طلبو ملکونو دمداخلاتو مخه ونيسي.

داسلام دښمنان غواړي چي افغانستان په لبنان بدل شي، دژبي په بنياد توطيي راپاروي غواړي پښتون اوتاجك وجنګوي ،هزاره ازبك په خپلوکي وجنګوي هغوي قومي تعصباتو ته لمن وهي .

زموږ ملك ته دهري خوانه دمداخلي لاسونه غځول کيږي.

ددغولاسونوقطع کول اودافغانستان ارضي تماميت اوملي حاکميت ساتل يوقوي حکومت ته ضرورت لري.

موږ ټولو مجاهدينو ته بلنه ورکوو چي

٣مخ

اوس دیته څه ضرورت نشته چي موږ انقلاب صادرکړو

دحزب اسلامي افغانستان دمجاهدامیر ورور حکمتیار مطبوعاتي کنفرانس چي دجلال آباد په إمان الله خان باغ کي جوړشوي ؤ، ستاسي ګرانو لوستونکیو دزیاتو معلوماتو له پاره یي پوره متن دلته خپروو.

بسم الله الرحمن الرحیم

زه ترټولو دمخه دوستانوته بنه راغلاست وایم اوممنون یم چي داتکلیف موقبول کړ، جلال آبادته موتشریف راوړ ترڅو حالات له نیږدي نه وګوري که دکمونستانو دبقایاوو وروستي شرارت نه وای نوکیدای شوچي موږاوستاسي داکنفرانس لا دېردمخه په کابل کي وي.

زه باورلرم چي دهغوي داآخري هلي ځلي به ناکامي شي اوله دي نه پس به داسلامي حکومت دجوړیدو په لاره کي دوي هیڅ خنډایجاد نکړای شي.

زموږ انقلاب په پنځم دثورکامیاب شوي. دکابل اولس قیام کړي دجمهوري ریاست ماڼي، صدارت اووزارتونه ئي اشغال کړي، داسلام بیرغ ئي اوچت کړي سرکونوته راوتي، مجادله یي کړي دتکبیرناري یچتي شوي او دمجاهدینو دفتحي اودبري جشن ئي جوړکړیدي.

لکه څنګه چي موږ غوښتل الحمدلله په هغه ورځ یوه قطره وینه هم تویه شوه دجنګ نه پرته کابل فتحه شواوموږ په همغه ورځ اعلان وکړچي موږجنګ پاي ته رسیدلي دکمونستانو اقتدارختم شوي اومجاهدینو مؤقت حکومت په کوم چي په پېښور کي اتفاق شوي وو اوقیادي شوري، دادي راشي، داموږو زمام دي په لاس کي واخلي اوکارونه دي پیل کړي.

خوهغه شریرقوتونه چي په کمین کي وو اونه ئي غوښتل چي کابل دي له وینې تویېدو پرته دمجاهدینوپه لاس کي پریوځي اوانقلاب دي په اساني بري ته ورسیږي، هغوي توطئه وکړه اومتاسفانه زموږ ځینو وروڼوهم اشتباه وکړه اوهغوي غوښتل چي خان ته یو پوښش جوړکړي اودهغه ترپردي لاندي په کابل کي جنګ پیل کړي، هغوي په ټانکونو اوتوپونوسره سړکونوته ووتل اودکابل اولس په خلاف هغوي ټانکونه اوتوپونه په جادوکي ایستلي

موږ نه غوښتل چي په کابل کي وینه تویه شي اویه کابل کي مو دجنګ نه دده کوله په دي خاطرموږ خپلو ټولو قوتونوته وویل چي دکابل شااوخوامورچلوکي بايد پاتي شي او فقط دفاعي حالت ونیسي اوپریږدي هغوي تعرض وکړي. هدف داووچي دوي ترفشارلاندي ونیسي چي کابل خامخا تخلیه کړي.

زه تعجب کوم هغو دروغجنو خبري آژانسونودرواغجنو تبلیغاتو په هکله چي دحزب په هکله وائي چي هغوي په کابل کي جنګ پیل کړیاهغوي په کابل راکټ وورول یاحزب اسلامي دمؤقت حکومت دمدافع قوتونوپه خلاف جنګیږي حال داچي جنګ ملیشه قوتونو جوړکړي اودکمونستانوافسرانو ترقیادت اوقوماندي لاندي داجنګ پیل شوي اوحزب اسلامي دهیڅ جهادي تنظیم پرخلاف جنګ نه لري، دموقت حکومت نه تنها عضودي، بلکي دمؤقت حکومت صدراعظم هم دحزب اسلامي دي، موږ یوپنځوس کسیزکونسل ته هم خپل نمایندګان معرفي کړي، موږ نه دمجاهدینوحکومت په خلاف جنګ لرو اونه دکوم جهادي تنظیم پر ضد. زموږجنګ دملیشو پرخلاف دي. زموږ غوښتنه داده چي داملیشه قوتونه خامخابايد له کابل نه ووځي. پریږدي چي دکابل امنیت خپله مجاهدین ونیسي. خوزه په صراحت سره وایم چي داملیشي به موږ خامخادکابل نه باسو په دي غوښتنه کي ټول افغان ملت له موږسره دي، ټول جهادي قوتونه ددي موقف ملاترکوي اوکه هغوي په کابل کي په پاته کیدو اصرارکوي نوزه داخبره اعلانوم چي انجام به ئي دبد، دبر وخیم وي. په دي دروغجنوتبلیغاتوکي مخصوصا د بي بي سي اوصداي امریکا رول دېرشرانګیزاودټولو اخلاقي معیاروڼوخلاف دي. دغسي لکه هغوي چي زموږ پرخلاف تیارجنګ اعلان کړي. له دي نه معلومیږي چي هغوي دمجاهدینودحکومت نه په کابل کي څومره ویریږي. خوددوي دمخالفتونو سره، سره به ان شاء الله په کابل کي دمجاهدینوحکومت جوړیږي، لکه څنګه چي دروس عزایم ټول دمجاهدینو دحکومت په خلاف شنډ شول دغسي به انشاءالله دامریکائیانو ټولي هلي ځلي دمجاهدینودحکومت دجوړیدودمخنیوي په جهت کي ناکامیږي.

موږیوتیم ملیون شهیدان ورکړي دهمدومره نوروشهیدانوله پاره هم داسلامي حکومت دجوړیدوپه خاطرتیاریو.

زه که څوارلس کاله نورهم په غرونوکي پاته شم، دیته تیاریم، اوزه هغه کسانوته حیران یم چي داتبلیغات کوي چي حکمتیارشکست وخوړ،وسله ئي پرځمکه کیښودله او زنګون ئي پرځمکه ولګاوه. اوداتبلیغات هغه چاکړي، له هغي منبع نه شوي چي هغوي دپردیوپوځونه هم ښکلوي، اوموږ هغه کسان نه یوچي فشاروړنو ته تسلیم شو اودښمن ته سرټیټ کړو. چي روس ته څوك نه وي تسلیم شوي، نه پوهیږم چي دهغوي ګوداګیو ډلیلو ملیشوته به مجاهدین څنګه تسلیم شي

زموږ مطالبي دادي چي دملیشي قوتونه به دکابل نه وځي اوټول ښاروته به دهغوي دتسلط نه خلاصیږي دکابل امنیت به دمجاهدینوپه لاس تأمینیږي. موقت حکومت اوقیادي شوري بايد خپل کارپرامن پیل کړي. شپږومیاشتوکي بايدپه افغانستان کي ددولت درئیس دانتخاب له پاره انتخابات وشي په یوکال کي بايد دمنتخبي‌اسلامي شوري دجوړیدوله پاره انتخابات وشي. بايدداخبره تضمین کړوچي له دي نه بعد به دقدرت دلاس ته راوړلو له پاره وسله نه استعمالیږي. کودتاګاني به نه کیږي، په زوریه څوك په افغان ولس حکومت نه کوي داقتدارله پاره به بوګولي نه فیرکیږي اویوه قطره وینه به نه توئیږي. هغوي به دپارتي (ګوند) په حیث

استاد" دلجو حسیني" دارشاد اوفرهنګ رئیس دمجاهد ورورحکمتیار دمطبوعاتي کنفرانس په غونډه کي

دهیڅ نوع فعالیت کولو حق نه لري، ټولي سیاسي پارټي به اسلامي وي داسلامي شعارونوسره اوداسلامي مرام سره، دغواسلامي پارټیوته به دهرنوع فعالیتونو کامله آزادي حاصل وي اخبار، رادیو، اوتلویزیون به بوازي دحکومت په لاس کي نه وي، دااسلامي پارټي هریوه کولي شي ټول فرهنګي فعالیتونه آزادانه سرته ورسوي اخباردرلودي شي، مجلي، رادیو، تلویزیون اویه دغو وسایلو باندي ددولت قبضه اوتسلط بايد ختم شي موږ به په دغه اصولي موقف ترپایه پوري اصرارکوو اویه دي کي الحمدلله ټول ملت له موږسره دي. موږ په عبوري مرحله کي هیڅ نوع امتیازات اوشرایط نه درلودل نه څه امتیازات غواړواونه دپارټي له پاره څه ترلاسه کول، دوزارتونو اودمنصب په سرباندي اصرارنه کوو موږ فقط څه اصولي خبري لرو دافغانستان دمستقبل دتضمین له پاره د بنی آینده له پاره ځیني اصولي شرایط لرو اوحتي ماته خبرنګارانویه لوګرکي وویل چي ستاسي دومره قوت په جنوب کي جمع شوي ولي کابل ته داخلیږي نه. مااوویل موږپه کابل کي جنګ نه غواړو.

په همغه ورځ موږهمغه حکومت ته بلنه ورکړي ده چي پشاورکي جوړشوي، حتي دهغه په جوړولوکي موږ حاضرهم نه وو، شپږوتنظیمونوپه خپلومنځونوکي توافق کړي موږمنلي، اویه همدي اکتفاکوم که له وروڼوسره څه سوالونه وي امیددي چي ځواب وویلي شم.

پوښتنه: دستاسي اورباني صاحب ترمینځ ملاقات شوي وو ددي په هکله څه توضیحات ورکړي؟

ځواب: زموږ اودجمعیت ترمینځ دوه ځله داورېند په معاهدي امضا شوي خویوځل دملیشي قوتونواویه پوځ کي پاتي کمونستوافسرانو دهغه احترام ونکړ، جنګ ته یي ادامه ورکړه اویه صریحو الفاظو هغوویل چي موږ داورېند کومه معاهده په رسمیت نه پیژنو اویه آخري حل هغوي یولویه حمله زموږپه سنګرونو جنوب غرب، جنوب شرق اوجنوب طرف ته وکړه چي خپل ټول زورئي وازمیلو، زیات تلفات ئي ورکړل اوپرشا وتښتیدل. ترهغه وروسته دوهمه معاهده زموږ ترمینځ شوي چي تراوسه پوري دهغه احترام شوي.

زموږ اوداستادرباني ترمینځ په کابل کي زموږ په یوه مرکز کي تفصیلي خبري شوي اوهغوي به داده ماته رسمي ځواب راکوي اوزه سبانه منتظریم چي موږ دهغوي نه رسمي ځواب ترلاسه کړو. ترهغي وروسته بیابي موږدوهم ملاقات وشي اوهلته اخري شکل ورکړشي.

پوښتنه: تاسو چي دوزیرخارجه په حیث چي دمؤقت حکومت له خوامالیزیاته راغلي وي، هغه واقعا دمالیزیااودمجاهدینو ترمینځ دعلاقوبهتري باعث وګرځید، تاسوفکرکوي چي تاسویه بیاهم دیوه مرکزي حکومت جزء وي چي تاسي دنورومجاهدو احزابوسره یوځای کاروکړي اوهلته دسولي اواستحکام په خاطر کاروکړي او دنورومسلمانو ملکونوسره ستاسو روابط دټینګښت باعث وګرځي؟

ځواب: دمالیزیاحکومت دافغان جهاد په ملاتړ کي فعال رول درلوده او لومړي سفارت دمجاهدینوپه کوالالمپورکي پرانیستل شوي چي تراوسه پوري هغه خپل کارته ادامه ورکړي، دمالیزیا دحکومت دملاتړاومرستي نه موږممنون یو. زموږ حزب دموقت حکومت جزدي اوزموږ پارټي به په افغانستان کي دجنګ دخاتمي دسولي اوامن دتأمین اویه افغانستان کي داسلامي حکومت داقامي له پاره دنوروتنظیمونو په څنګ کي په ګډه کارکوي.

امیددي چي دافغانستان اسلامي حکومت دټولو اسلامي ملکونو سره دوروریزوارتباطاتو او تعلقاتویه ټینګولو کي جدي ګامونه واخلي ان شاء الله اسلامي حکومت به په افغانستان کي په منطقه کي دامن اواستقرارراوستو له پاره له هیڅ نوع هڅي نه دده ونه کړي.

زماموقف داووچي دتنظیمونورهبران دي په موقت حکومت کي دبرخي اخیستلو کوشش نه کوي هغوي دي انتظاروکړي ترانتخاباتوپوري که ملت په هغوي اعتمادوکړ اوملت ورته وغوښتل چي په حکومت کي شرکت وکړي نوبیادي راوراندي شي. زه په خپل همغه موقف ولاړیم دهمدي له مخي موږ دموقت حکومت دصدراعظم په حیث استادفرید معرفي کړ. موږ نوروتنظیمونو ته پیشنهادوکړچي کیدای شي هرپارټي دي یویونفرعالم معرفي کړي دادي مؤقتي اداره جوړه کړي قدرت دي دوي ته انتقال شي داسي هم کیدلي شي چي دکابل دشااوخواجبهاتوقوماندانان دي داعبوري اداره جوړه کړي اوقدرت هغي ته انتقال شي، رهبران دي اوس په حکومت کي دبرخي اخیستلو شوق نه کوي خواوس چي زموږ په غیاب کي شپږوتنظیمونو کومه اداره جوړه کړي موږله هغه سره متفق یو اوترشپږومیاشتوپوري هغي ته موقع ورکوو.

پوښتنه: دستاسوله ګوندنه علاوه دنوروګوندونوقوماندانان یانماینده‌ګان هم له تاسوسره په دي فورمولاکي توافق لري اوکه نه؟

ځواب: تاسوشايد اطلاع ولري چي په جلال آبادکي دقوماندانانویوه مشترکه شوري جوړه شوي اودغي شوري ته دجلال آبادټولي چاري سپارل شوي دي اودلته والي ټاکل شوي اودقول اردو قوماندان، دامنیي قوماندان ټولي اداري اویوستونه فعال شوي اودټولو تنظیمونو په اتفاق داکارشوي دي. زه دلته جلال اباد ته چي راغلي یم ددغي شوري په بلنه راغلي یم اوله ماسره

په هرهیوادکی په خپله داولس په لاس

دجلال اباد والي، دامنیي قوماندان، دقول اردوقوماندان اودشوري غړوټولو برخه درلودله اوداکنفرانس دهغي شوري له خوا دي،زماله طرفه نه دي.

پوښتنه: تاسووفرمایل چي موجوده حکومت کي زموږصدراعظم دي نوتاسي داحکومت چي آصف دلاورئي لوي درستیزمقررکړي اواوس هم دښاریرچمیان اودکمونست پارټي خلك کارکوي نوڅنګه ستاسي په حکومت کي دستردرستیزچاري بویرچمي ته ورکول کیږي؟

ځواب: دافیصلي ټولي غیراصولي دي فیصله داسي شوي چي بايد قیادي شوري په اتفاق دااووسره مهم مسائل حل اوفصل کړي په دي اساس تراوسه پوري چي دهغوخلکودتوظیف په هکله کومي فیصلي شوي داټولي غیراصولي دي.

قیادي شوري به په دي هکله بحث کوي دوزیراعظم نه پرته چي څوك وزیران ټاکي دابه عجیبه وي داهیڅ پارټي هم نه پریږدي اوداټول غیراصولي اقدامات دي.

پوښتنه: ستاسي اسلامي انقلاب چي کامیاب شوداانقلاب به تاسو وغواړي چي شمال ته صادرکړي اویه هغورورورو ملکونو کي چي واره، واره نجیبان حکومت کوي دهغوي دپرځولو په خاطر هلته تاسو کمك وررسره وکړي؟

ځواب: زه دومره ویلي شم چي دااسلامي ملکونو هغه آزادو اوکه محکوم یومحتوم انجام دي چي په دي کي به اسلامي حکومتونه یویه بل پسي راځي اویه شمال کي به هم راځي اویه جنوب کي هم. او تاسو ګوري چي الحمدلله په افغانستان کي داسلامي حکومت دجوړیدونه لادمخه هلته شمال کي محکوماسلامي ریاستونوکي داسلامي حکومتونو دجوړولو له پاره انقلابونه عملا پیل شوي،اصلا دي ته ضرورت نشته دي چي انقلاب له دي خوانه صادرشي دغه پیښي چي اوس په تاجکستان اوازبکستان کي رواني دي داسلامي حکومت دجوړولو له پاره دي، هغوي دافغانستان داسلامي حکومت مخالفت کوي، اوس دیته اصلا ضرورت نشته چي موږ انقلاب صادرکړو، په هرملك کي به په خپله داولس په لاس دااسلامي انقلابونه راځي.

پوښتنه: تاسي وایي چي په کابل کي ملیشي خونریزي وکړه، اوزموږ دپاکستان وزیراعظم وایي چي په کابل کي څومره خونریزي وشوه دادجماعت اسلامي امیرقاضي حسین احمدکړي په دي هکله تاسي څه وایاست؟

ځواب: اول خوداستاسي داخلي مسئله ده دوهمه خبره داده چي زه ګمان نه کوم چي یوصدراعظم داسي خبره وکړي اودریم داچي څوك چي دافغانستان له حالاتونه معمولي معلومات هم ولري په دي پوهیږي چي داوینې ټولي په کابل کي دملیشوپه لاس تویي شوي، تاسولاړشي دهمدغوخلکونه چي دکابل نه وځي تپوس وکړي چي ستاسوکورونه چاووران کړي ستاسو خپل خپلوان دچاپه لاس په قتل رسیدلي ستاسوپه کلبوباندي دچاله خواښونه وریدلي لاپښي همدااوس له دي ځاي نه ووځي دکابل نه ګڼ شمیرکورنوراروان دي دهغوي نه تپوس وکړي. دهغوي شکوه اوشکایت له چانه دي اویه کابل باندي دابمونه چاوورولي. او ددغو منطقو نه چي داخلك راځي او کورونه ئي وران شوي دي تاسي پوښتنه وکړي چي دچاپوري مربوط دي هلته دچاپیرغونه اوچت دي، دچاشعارونه اوچت دي داغربي خبرنګاران هم چي په دروغ ویلوکي سخت مهارت لري اوهیڅ اخلاقي معیارهم نه پیژني هغوي هم واني چي په هغومنطقو باندي بمونه وریږي چي هلته دحزب اسلامي بیرغونه اوچت دي اودحزب اسلامي سنګرونه دي حال داچي په دغومنطقوباندي چي اوسیدونکي یي دننګرهاردي، دپکتیادي بمونه وریدلي.نه پوهیږم چي دا په بل چاپوري منصوبول به څه توجیه ولري، ماته دهمدغوکلیوخلك راغلي اوویلي دي چي که زموږټول کورونه وران شي ټول په قتل ورسیږي پروانشته خوتاسو موږددي ملیشو له شرنه خلاص کړي.

دهمدغومتلقو خلك تللي دي په کابل کي دپارټیو مشران یي دګریوان نه نیولي چي دغه ملیشي زموږپه کورونوراننوځي اوبدناموسي کوي داڅنګه اسلامي حکومت دي چي تاسو داملیشي آزادي پریښي اوزموږ په ژوند لوبي کوي اوزموږ په آبروباندي تیري کوي.

پوښتنه: داورېند په باب احمدشاه مسعود ویلي چي ملیشي دکابل په نیولوکي اهم کرداراجراکړي تاسي په هغي باندي څه نظرلري اوکه داملیشي له کابل نه ونه وځي نوبیابه تاسي څه کوي؟

ځواب: زه څواول ددي پوښتنه کوم چي ماته دي څوك ووائي چي ملیشي دنجیب دحکومت په پرځولو کي کوم رول اداکړي. که هغوي یوه مرمي فیرکړي زه منم.هغوي خوترآخري نیټي پوري دنجیب په څنګ کي ودریدلي دملت اودمجاهدینو په خلاف جنګیدلي، ملیشه یي قوتونه خوهغه ورځ کابل ته راغلي چي دکابل رژیم نسکور شوي و، دکابل په ټولو کوڅواوسرکونوکي داسلام بیرغ رپیده اودکابل ولس اصلا دمجاهدینوفتح نمانځله ترهغي وروسته دملیشي قوتونه راغلي اویه کابل کي یي جنګ پیل کړي. نه پوهیږم دنجیب دحکومت په ختمولو کي دملیشي څه رول و، اوزه ګمان نه کوم چي هیڅ مجاهدداخبره وکړي شایي داپه مسعود پسي داپه دروغوتړل شوي وي. دنجیب حکومت دمجاهدینو دقربانیوپه نتیجه کي نسکور شوي دي. دنجیب رژیم

زموږ ملت دخپلو شهادتونوپه نتیجه کي-نسکور کړي اوداملت لوي احسان و دملیشوپه نسبت چي ویي ویل هغوي ته عامه معافي ده دادیره لویه خبره ده او تردي زیات مخکي تګ اوداویل چي دملیشوداسي رول و چي هغوي بايدتقدیر اوتمجیدشي نوداډیرانتیا خبره ده. له دي نه علاوه زه دومره ویلي شم چي دټولو پارټیو نه بلااستثناماته په کوټه کي پیغامونه رسیدلي چي دملیشو په ایستلوکي موږله تاسوسره اتفاق لرو داچي په ځرګندطورهغوي بل څه وایي زه نه پوهیږم. کیدای شي دادهغوي دخاصو مشکلاتوپه وجه وي، ټولو مجاهدینو دافیصله کړیده، دننګرهارشوري فیصله کړي ده، دټولو تنظیمونو مجاهدینو چي ملیشي به خامخاله کابل نه وځي که نه موږ دهغوي په خلاف جنګ کوو دپکتیا، لوګر، پکتیکا، غزني، وردګ، میدان او کابل جنوب شرق جبهاتو تقریبا ټولو مجاهدینو همدغه مطالبه کړي اوکابل ته بي خپلي فیصلي هم لیږلي چي دملیشي قوتونه په خامخاله کابل نه وځي. باتي شو،دملیشو دپاته کیدو یادهغوي دتقدیر اوتمجید خبره. په دي خبره کي مجاهدین دهیچامرسته اوملاترنه کوي.

پوښتنه: تاسو دملیشو داخراج په خاطر کوم ضرب الاجل ورکړي که نه

ځواب: ددوي دایستلو په حصه کي خبري اتري رواني دي که داخبري اتري ناکامه شوي بیابه موږ له خپل طرفه اقدام کوو. موږ ویلي وو چي په یوې هفتي کي دي تنظیمونه دسیاسي فشارونوله لاري ملیشي دي ته اړکړي چي دکابل نه ووځي اوکه ونه وتلي بیادي دهغه اقدام ملاتړوکړي چي کوم موږ دملیشو دایستلو په جهت کي اتخاذ وو.

پوښتنه: ستاسو په خیال اوس په کابل باندي دچاحکومت دي دمجددي، مجید اوکه دربانې ددي په باره کي وضاحت ورکړي؟

ځواب: داویرګران سوال دي.ګومان کوم چي تاسوکابل ته لاړشي اوله هغوکسانونه تپوس وکړي چي هریوګومان کوي چي په کابل باندي دهغوي حکومت دي که دهغوي نه تپوس وکړي شايد تاسوته سه معلومه شي. واکسان چي تاسو بي نوموئه واخیستل هریوددي ادعاکوي چي په کابل باندي ددوي حکومت دي داسي معلومیږي چي دځینو ادعاویره خلاف کي واقع ده اودځینو حقیقت ته نیږدي ده. زه دومره وایم چي له چاسره چي توپونه، ټانکونه اوطیاري دي هغوي حکومت کوي.

اوڅوك چي دملیشو په اوبوکابل ته رسیدلي دهغوي ادعازیات حقیقت نه لري. هغه چي خالي له یوکلاشنکوف سره کابل ته راغلي که ئي شمیرزیات هم وي هغه که داتصورکوي چي په کابل حکومت کوي اشتباه کوي نوتاسولارشي وګوري چي توپونه، ټانکونه، طیاري له چاسره دي، همغوي حکومت وي.

زه بايد ووایم چي دمجاهدینو دشمیر په دیر یدوداممسئله نه شي حل کیدلي څکه ملیشه اوس یومنظم پوځي طاقت دي چي دافغان سابقه پوځ ځاي ئي نیولي اوداپوځ لاوبر دمخه ختم شوي اویه دغو اوږدوکلونوکي دمجاهدینوپه خلاف چي څوك جنګیدل همدغه دملیشي قوتونه وو او اوس ټول استراتیژیك ځایونه مهم تاسیسات دهغوي په لاس کي دي، ثقیله وسله ټول ددوي په لاس کي ده اوترټولو منظم دوي دي دمجاهدینو که شمیرهم زیاتیږي بوازي دکلاشنکوف سره،نودهغوي مقابله نشي کولي دملیشي دقوتونو ایستل دکابل نه،دکابل اولس دآزادي اویه کابل کي دمجاهدینو دحکومت دجوړیدوله پاره لومړني مقدماتي شرط دي. ترڅوچي دملیشي قوتونه دکابل نه نه وي وتلي له بلي لاري هلته امنیت راوستل دخلکودعرض، آبرو، مال، خان ساتنه اودمجاهدینوحکومت جوړول ممکن نه دي.

پوښتنه: د A.N.P مشربه پېښوروکي وایي که چیرته حکمتیارصاحب ووائي چي زه دپښتنوپه خاطرجنګیږم زه به دهغه حمایت شروع کړم.

ځواب: زه دولي خان مرستي ته ضرورت نه لرم، اودولي له خاطره پښتون کیږم هم نه، زه اول مسلمان یم بیاپښتون زه په دي دومره اوږدوکلونوکي چي مسلمان اوپښتون وم خوولي خان زمامرسته نه ده کړي. په داسي حال کي چي ولي خان خان ته پښتون وایي خودپښتنو مخالفت ئي کاوه هغه ترپښتنوروسانوته ترجیح ورکوله، هغه دهندووانو سره تل ملګرتیاکړي ده دپښتنوخلاف که ولي خان داګومان کوي چي په افغانستان کي دپښتنواو اوپارسیوانو (فارسي ژبانو) جنګ پیل کړي زه هغه ته وایم چي دي مقصدته نشي رسیدای.

اسلامي انقلابونه راتلونکي دي

افغان ولس که پښتون دي که تاجك که ازبك اوکه هزاره، وروڼه اودیوملت افراد دي په افغانستان کي جنګ دپښتنواوداجکوتړنه بلکي جنګ دکمونستانواومجاهدینوترمینځ دي. که دملیشو په خلاف هم موږجنګیږو په دي خاطرچي دادملیشي قوتونه دروسانوپه لاس جوړشوي اودادکمونیزم بقایادي.

خبریال: عبدالهادي "نیازي"

که دملیشي داقوت په خپل حال پاتي شي

په خپلوکي لاسونه یوکړي اویوقوي اسلامي افغانستان دي جوړکړي دهمدي له پاره موږ دننګرهار دجهادي اسلامي شوراي ملاتړ کوو او واقعاً دغه شوراي قدراوتمجید وړده.

موږ خپلو مجاهدینو ته ویلي چي په څه اتفاق شوي په کلکه او صادقانه به دهغه التزام کوي.

بايد دغه اداره یواځني اداره وي چي دننګرهارامنیت تامین کړي.

زه دخپله طرفه حاجي صاحب عبدالقدیرخان دننګرهار دجهادي اسلامي شوري مشروالي ته اودشوراي نورو غړوته اطمینان ورکوم چي موږ به ددي شوراي پوره ملاتړکوو.

زه ورونو ته اطمینان ورکوم چي دیرژر به په افغانستان کي اسلامي حکومت جوړیږي اوهغه هدف به ترلاسه کیږي چي په خاطریي قوم (۱٤) کاله دجنګ سرئښي اوکړاونه وګالل.

ورونوا زه (۱۹) کاله دمخه ننګرهارته پداسي حال کي راغلي وم چي دداود استبدادي رژیم تر تعقیب لاندي وم اویه ټول افغانستان کي زما عکسونه خواره شوي و اوزمادااعدام فیصله شوي ؤ.

پولیسو قدم په قدم تعقیبولم. اویداسي حالت کي کابل کي ګرځیدم چي دوه تننګجي به راسره وي داسي فیصله وه چي پولیس به ماژوندي ونه نیسي (۱۹) کاله بعد ننګرهارتباړته داسي داخلیږم هغه هم دکابل له لاري چي دلته الحمدلله د مجاهدینو حکومت دي.

دلته هم اوس داسلام بیرغ اوچت دي.

دلته اوس دخداي رحمت دي دوه هفتي دمخه یوه بوجي اوړه په جلال آبادکي په (۳۵) زره افغاني و اواوس (۷) زره افغاني دي.

دافرق دڅه له پاره دي څه توپیر راغلي، علت دادي چي دکمونستانو دورختم شوي دلته دمجاهدینو حکومت راغلي دوه هفتي دمخه دلته خلك دخوف او ویري په حال کي وو، اونن دهرچا دسیما نه داداواطمینان څرګندیږي. ورونو! زه تاسوته اطمینان درکوم چي دکمونستانو داوروستي توطئه به هم شنډیږي دا دهغوي اخري مذبوحانه تلاشونه دي.

لکه ذبح شوي حیوان چي سلګي وهي اولاس اریښي غزوي ان شاالله په افغانستان کي به امن، سکون وقرت اوکثرت راځي.

اوالله (ج) به دبرکت دروازي دآسمان اوځمکي له لوري پرانیزي. ورونو ! راځي په څو نقطوتعهدوکړو:

۱- دکمونستانو داوروستي بقایاباید ختمي کړو او ملیشي بايد دکابل نه ووځي. (حاضرین: ودي وځي)

۲- هغه کمونست صاحب منصبان چي په کابل کي یي دثورپه شپږمه دکوم شرارت اوفتني باعث شول اویه قوم باندي یي بمونه واورول د ولس کورونه یي وران کړل دکابل نه یي خلك هجرت ته مجبورکړل بايد محاکمه شي. (حاضرین:محاکمه دي شي)

۳- موږ په افغانستان کي لدي نه بعد دجبر اوزوراودوسلي حکومتونه نه منو (حاضرین: نه یي منو) بايد ملت ته موقع ورکړشي چي دخپلي خوښي زعامت اومشرتابه وټاکي بايد منتخبه شوراي جوړه شي اودغه منتخبه شورا دي دملك دپاره اساسي قانون جوړکړي اوددغه اساسي قانون مطابق دي حکومتونه جوړشي.

الحمدلله داټول قوم مطالبه ده افغان ولس لدي نه بعد داسلامي حکومت نه په کم شي نه راضي کیږي، ائتلافي حکومت نه مني موږ بیا اعلانوو چي ائتلافي حکومتونه نه منو. (اقول قولي هذا واستغفرالله لي ولکم) والسلام علیکم.

بلي کوونکي محمد سرور (قیام)

ارشادنبوي

حضرت ابوهريرة (رض) روايت مي كند كه پيامبر عليه فرمودند : مسلمان برادرمسلمان است نه براوظلم مي كند ، نه اورا تحقيرمي كند ونه اورا بي يارومددگارمي گذارد. خون ، آبرو ومال هرمسلمان بالاي ديگران حرامست ، خداوند بطرف جسم وشكل تان نظرنمي كند بلكه اعمال وقلوب تانرامي نگرد.

(مسلم)

بقيهٔ سرمقاله

درنظربگيريم مي بينيم كه تعداد اقوام ديگرنيز كمتراز آنهايي كه براي اين هدف نامقدس استعمال مي شوند كمتر نيست علاوه ازان اقوام افغانستان چنان باهم خلط شده اندكه باوجود آنكه دريك منطقه اقوام مختلفي باهم زندگي مي كنند پيوندهاي خويشاوندي نيز دارند همچنان خطراتي كه از جانب تاجكستان درين رابطه موجود بود بنابرتفسيراتي كه درجوسياسي آن كشور رونماشدني است بسوي منتفي شدن نزديك شده ميرود.

تشويش عمده يي كه موجوداست اين است كه يك عده ازنيروهاي جهادي آگاهانه ويا غيرآگاهانه ازطرف دشمنان اسلام عليه جهادوملت وتماميت ارضي افغانستان استعمال مي شوند ازهمينجاست كه استعماركوشيد يك قوت كوچك مجاهدين راباكمونستها تلفيق دهد تااين قوت كوچك پوششي باشد براي كمونستها ولي لله الحمد كه اين توطيه آنقدرافشاشد كه امروز حتي خود آناني كه درعقب اين توطيه قراردارند مجبورشدند اعتراف كنند كه قدرت دركابل هنوز هم دردست كمونستهاست .

امروز مسعود درحقيقت حيثيت يك اسير بدست دوستم رادارد وآقاي مجددي كه اسير ترازمسعوداست .همين اسارت آنهاست كه اخيراً رشيد دوستم قاطعانه از آنها خواسته است كه سهم اورا درحكومت تعيين كنندمجددي ومسعود مجبور اندبه آنها سهم بدهند.

چنانچه باتقرر آصف دلاوربحيث لوي درستيز نشان دادند كه حقيقت امرچيست .

حال درقبال حزب اسلامي تنظيم هاي اسلامي ديگر وظيفه دارندكه باهوشياري توطيه هاي دشمنان راعقيم سازند وبه آناني كه درصف پرچميهاقرارگرفته اند تفهيم كنند كه اين حركت نه بخيراسلام است ،نه بخير ملت وكشور ونه بخير خوداو . البته بايد عرض كردكه اين حرفهاي ما راهرگز دوستان نماياتگر ضعف حزب اسلامي ندانند حزب اسلامي به تنهايي نيز ان شا ءالله ميتواند جلو توطيه ها عليه جهاد ،كشوروملت رابگيرد.

چنانچه نيرومندي ونظم حزب نشان دادكه چگونه باسرعت هرچه بيشتر يك توطيه بزرگ راناكام ورسوا ساخت .اگرحزب اسلامي نمي بود امروز واقعيت ها طورديگري مي نمود.

حزب اسلامي همواره درقبال قضاياي مربوط افغانستان وجهاد اسلامي موقف قاطع وبجايي گرفته است . موقف كنوني حزب اسلامي راهم ملت وهم جهان ديدكه يك موقف واقعبينانه بود ازهمينجاست آناني كه در ابتدا موقف حزب رابباد انتقادمي گرفتند امروزبه حقانيت موقف گيري حزب اعتراف مي كنند . آمدن برخي ازافراد برجسته تنظيمهاي جهادي بدون اينكه ديدند كه دركابل هنوز هم كمونستها برسراقتداراند هيچ انگيزه بي ديگري ندارد .

ولي تنظيمهاي شان اكنون بايد مسؤوليت اسلامي وتاريخي شانرادرك كنند و اشتباه شانرا تلافي كنند وبامشت آهنين وحدت پوز دشمنان دين ،ناموس و تماميت ارضي كشور را بشكنند واگر جز اين فكركنند ودراندیشهٔ بدست آوردن قدرت توسط مليشيا وكمونيستها باشند اسم شان درتاريخ درشمارشاه شجاع ببرك وامثال آنان نوشته خواهد شد.

دمنځني ختيځ دسولي ...

منابع شامل دي دهمدي اونې په پاي كي به په اوتاوا، ويانا اوتوكيو كي پيل شي . خبرزياتوي دفلسطين دآزادي سازمان ددي خبرومللاتركري ، ولي اسرائيل دبروكسل، داوتاواپه غونډه كې برخه نه اخلي دهغوي انتقاد اومخالفت دادي چي داشغال شوو سيمونه فلسطينيان دغي غونډي ته رابلل شوي دي .

سوريه اولبنان هم په دوارو غونډوتوكي برخه نه اخلي اودوي وايي چي په پخوانيو دوو ارخيزوخبروكي كوم انكشاف نه وو راغلي .

درمقابل يكفاميلكه واردافغانستان مي‌شود پنج فاميل ديگر بطرف پاكستان مي آيد

پشاور :

موجوديت مليشه هادركابل و احتمال وقوع جنگ ميان دوجناح متخاصم مجاهدين ومليشه هاباعث آن گرديده است كه ساكنين كابل شهررا ترك نمايند، تاحال صدها خاندان بكابل راترك گفته به جاهاي پرامن باالخاصه پاكستان هجرت نموده اند، روزنامهٔ جنگ به نقل ازيك مامورعالي رتبه كمشنري مهاجرين افغاني گفته است كه تعداد ازفاميل ها توسط موترهاي كه به افغانستان منتقل مي شوند فاميلي هاي ديگري ازافغانستان درآن موترهابطرف پشاورهجرت مي كنند آنهاگفته اندكه يك خانواده به كابل رفته پنج خانواده ديگر ازكابل به پشاور مهاجرمي شود سلسله مهاجرت ها هنوزادامه دارد.

مبادلهٔ اسراي جنگي بين ايران وعراق

۲۱ ثور:

خبر گزاري جمهوري اسلامي ايران اظهار داشت كه يكتعداد اسيرجنگي ايراني وهفت اسير جنگي عراقي روزگذشته درخطوط مرزي دوكشورمبادله شدند

بنابه گفته منابع صليب سرخ تاهنوز بيست هزار اسير جنگي عراقي درايران وهفده هزاراسير جنگي ايرا ن دراسارت درعراق به سرمي برند.

شهادت

شهركابل تاراج شد

كابل – ۲۱ ثور :

چوروچپاول مليشياها درشهركابل به اوج خود رسيده اموال دولتي وشخصي مردم راباتهديدكلاشينكوف مي ربايند وبه قيمت نازل بفروش ميرسانند .

آخرين گزارش رسيده ازشهركابل چنين مينگارد، درسراسر شهربازار ظلم وغارتگري گرم بوده دفاتر دولتي ، مغازه ها ، دكانها ، عراده جات ، اثاثه ووسايل خانه هاي مردم توسط مليشيا هاي جنايت پيشه تاراج گرديده است ، دراكثر نقاط شهردكانهاباز بوده ازمال ومتاع درآن ها اثري ديده نميشود .

شخصي كه اخيراً ازكابل عودت نموده چشم ديدهايش را چنين حكايت مي كند كه مليشاها دفاتردولتي چون رياست زراعت ، وترنري ورياست باغات را غارت نموده ، تلفونهارا برزمين زده وپارچه پارچه كرده اند، اموال ووسايل ليسه عسكري واقع مهتاب قلعه رانيز دزديده وازسامان آلات آن اثري بجانگذاشته اند. به همين ترتيب درهمه نقاطي كه زيرنفوذ مليشيا هاوحاميان آن قراردارد بصورت عموم چوروچپاول صورت گرفته است . وي ميگويد حداقل ۳۶۹. عراده موترطوري ربوده شده است كه بااستفاده ازسلاح ازگاراجهاكشيده شده وباصاحبان آنهارا ازموتر پايين نموده وموترهارا ربوده اندكه تاكنون مفقودالاثر اند واقدامي هم درمورد استرداد آنهاصورت نگرفته است اموال سايردفاتر دولتي ازقبيل قالين، فرش ، ظرف، چوكي، ميزوغيره اجناس قابل انتقال تاراج گرديده وبرخي ازآنهابه قيمت نازل بفروش رسيده است .

موصوف علاوه مي كندشركت قالين مقابل تانك تيل شهرنوكه به تعداد ۳۷. تخته قالين راجهت صدوربه خارج آماده نموده بود، قالين هاي نامبرده همراه باساير اموال و قالين هاي دكانهاي همجوارآن غارت و بقيمت اندك به فروش رسيده است.

به همين قسم ساير اموال شهركابل تاراج گرديده جان ، مال وعفت مردم صدمه ديده است .

كاروان مواد امدادي پاكستان حين مواصلت به شهركابل قبل ازباراندازي، بالاي موترها طورليلام به قيمت يك بوري آرد ۹ – ۱۰. هزارافغاني ، يك پيپ روغن (دوسيره) ۱۰. – ۱۲ هزارافغاني ، يك بوري بوره ۱۰. هزارافغاني ، كچالو وپيازيكسير ۹ صدافغاني بفروش رسيد وتعداد معدودي ازآن مستفيدشد .

هم چنان نجيب رئيس رژيم قبلي مبلغ ۱۹۰.. مليون دالر راقبلا بخارج ازكشور انتقال داده وخودش همراه با برادرش دردفترسازمان ملل ميباشد گفته مي شودكه هنگام حمله بركابل افراد رشيددوستم ازمحل سكونت ببرك پاسداري مي نمودند بعدا ببرك ، محمودبريالي ، واعضاي فاميل آنهاوبعضي افراد ديگرتوسط دوفروند طياره به مزارشريف فرستاده شدند .

دافغانستان دوروستيو پيښوپه اړه دپكتيااولوگرولايتو د بيلابيلو قومو دمشرانو پريكړه ليك

دغويي ۲۱ نيټه :

دپكتيا اولوگرولايتونو دبيلابيلو قومونو مشرانوخوا دروان كال دغويي دمياشتي په يوويشتمه نيټه دوروستيو پيښوپه اړوند يوه پرتمينه اوشانداره غونډه وشوه .

په غونډه كي دبحث اوخبرونه وروسته دتولوپه اتفاق سره لاندي پريكړه ليك صادركړي شو.

۱- دهرات دولايت ښارته دايران دلوړرتبه مامورراتگ اوهلته له بعضي مجاهدينوسره تجارتي تړون مونږته دزيات تشويش باعث دي .

۲- دكابل په ولايت كي دمليشياواوگلم جمانوموجوديت اودهغوي جنايتونه اولوټ ماري او كوموكسانوچي دپليدومليشاو ترڅنگ ولاړدي عيناً مليشه بولو اودټولو جهادي قوتونو څخه غوښتنه كووچي دغه جنايتكاري مليشي وحبي اوملت دهغوي دشرڅخه خلاص كړي .

۳- داسلامي حكومت دجوړيدوله پاره واضحه كرنلاره غوره كړي شي ترڅوپه ټول افغانستان كي امنيت برقراره اويومنتخب اسلامي حكومت رامينځ ته شي .

٤- په راتلونكي حكومت كي ديوه كمونست شاملول هم مونږ ته دمنلو ورنه دي ځكه ددغوعناصروپه حكومت كي شاملول دلكونوشهيدانو، معيوبينو، كونډواو يتيمانو پرسرنوشت لوبي كول دي .

تبديلي نام

برادر رحيم الله ولد شاه محمود متعلم صنف ۱۲-د-بخش ليليه ليسه سيدجمال الدين مسكونه ولسوالي علينگار ولايت لغمان اسم خودرابه ميرويس تبدبل نموده است . اميدواراست به اسم جديدش شناخته شود .

په ايران كي د رفسنجاني پلويانوپارلماني انتخابات وگټل

تهران – دغويي ۲۲ نيټه :

دايران واكمن جمهوررئيس رفسنجاني پلويانو دجمعي په ورځ ددوهم دور دانتخاباتونه وروسته پارلماني لوي اكثريت ترلاسه كړي .

ريوټ وايي چي مركزي ښي ارخي اتحاد چي دازادبازار داقتصادي اودرفسنجاني دمعتدل بهرني پاليسي حمايه كوي دپارلمان د ۲۷۰. چوكيو څخه ځه دپاسه ۲۰۰. چوكي گټلي دي .

دغه نتايج داعتدال خوښونكو كاميابي ثوره هم تقويه كړه .

****

درانتخابات فلپين يك خانم تازه واردكه سابق قاضي بود برحريفان خود سبقت دارد

۲۱ ثور

نتايج اوليه غيررسمي انتخابات امروزي درفلپين نشان ميدهدكه سه تن ازداوطلبان برديگران سبقت داشته ويكي ازآنهاي كه تازه وارد سياست است ازهمه سبقت جسته است.

شبكه تلويزيوني فلپين ميگويد : خانم ميريام سند يندياگوكه درگذشته يك قاضي بود برحريفان خود اندكي سبقت دارد بررسي هاي قبل ازانتخابات چانس پيروزي خانم ساندياگوراكه رابسياربيشترميخواند . گفته مي شودكه رلگاموس سابق وزيردفاع درمقام دوم قراردارد نتايج رسمي نهايي انتخابات تاچند روز ديگر انتظاربرده نميشود.

هند ددريوبانكوپه باب دتحقيق كولوامروركړ

دهند دماليي وزيرداسهامودبازارپه بوه پيښه كي ددري دولتي بانكونو درول په باب دتحقيق كولو امروركړي .

ورځپاڼو اودحكومت سياسي مخالفينو ادعاكري ده چي داسهامو ددلالانو او بانكونو دسيسه جوړه كړه اوپه سلهاو مليونه دالره يي دخپلو گټوله پاره داسهاموبازارته راايستل .

وبازگشت پناهندگان افغاني كه در ايران وپاكستان به سرمي برند شتاب بخشند

عشق آباد ۲۱ ثور:

سران جمهوري هاي آسياي ميانه قرغزستان ، قزاقستان ازبكستان وتركمنستان درحضور سران ايران ،تركيه و پاكستان دراجلاس خود درعشق آباد پايتخت ازبكستان در موافقتنامه سياسي واقتصادي منعقد ساخته اند.

شركت كنندگان دراين جلسه حوادث ... افغانستان رامسايل داخلي اين كشور دانسته ابراز اميدواري كردند. كه دولت انتقالي كنوني دركابل بتواند به ايجاد تفاهم وثبات سياسي نايل آيد آنها هم چنين از جامعه بين المللي خواستند تابه كمكهاي بررسي بازسازي پناهندگان افغاني شتاب بخشند.

شهادت

بيانگرعقايد وآرمانهاي حزب اسلامي افغانستان

مؤسس : انجنير"حكمتيار"

صاحب امتياز : حزب اسلامي افغانستان

ناشر :رياستارشادوفرهنگ

سال تاسيس : ۱۳۵۷ هجري شمسي

تحت نظرهيئت تحرير

تلفون : ۶۳۷۸۹- ۳۰۲۲٤ پشاور

پوست بكس (۱٤۶۵) يونيورستي تاون پشاور

دمتي كمپ زرگونو مهاجرودگلم جم مليشي دايستوغوښتنه وكړه

متي – ۲۲ ثور :

پرون دمتي په كمپ كي په زرگونو مهاجرينوچي علماو،منورينو، مشرانو محصلينو اومتعلمينو هم پكي برخه درلوده يوه غونډه وكړه ، غونډه دقرآنكريم دخوايتونو په تلاوت پيل شوه وروسي دمتي كمپ مشر وروور آدم خان دروانوحالاتوپه باب ارزښتناكه ويناوكړه وبي ويل داد خوشحالي ځاي چي زمورمجاهدين بريالي شوي اوله كمونستانوڅخه بي وطن آزادكړي، خوځفه زياته كړه چي متوجه اوسي چي په دي وروستيوكي دتوطيو ښكارنه شو اودخپلو له خوارابانديز ائتلافي حكومت ونه تپل شي چي زموږ تولي هلي ځلي ابته كړي ، نوموري زياته كړه چي موږ بيا غواړوچي گلم جم مليشي دي له كابل څخه خلع سلاح وويستل اوتول ملحدكمونستان دي محاكمه شي .

غونډي ته نورومشرانو اوعلماوهم وينا وي وكړي ، ويناوالوپه كابل كي دگلم جم مليشي په موجوديت اوپه يوځ كي دملحدآصف دلاوردبياتاكني له امله غم اوخپگان څرگندكړ، په يوه اوازسره بي وويل چي موږ به چاته اجازه ورنكړو چي زموږدبوتيم مليونو شهيدانو له ارمان سره خيانت وكړي .

اعلان مفقودي

محمدنذير فرزند احمدكبير مشهوربه وحيد متعلم صنف (۱۱) ليسه انصاري به تاريخ ۱۲ ثور ۱۳۷۰ كه ازكابل به قصد پشاور حركت نموده بود درمسير راه مفقود الاثرگرديده است.

اگركسي نامبرده راديده ويادرموردآن معلومات داشته باشد به آدرس ذيل اطلاع دهد.

تاون ، كوچه مقابل تانه پوليس كورس انگليسي I.L.C.E يا به تليفون نمبر ٤٥٤٣۳ تماس بگيرد

#

پيغام

مجاهدين دي له مليشياوو ځان بيل كړي

حكمتيار

دمليشياوو قوماندانان دهغه اوربند احترام نه كوي چي دحزب اسلامي افغانستان اوجمعيت اسلامي افغانستان ترمنځ امضاشوي.

دكوم پراساس چي داوربند ترڅنگ بايد دمليشياقواوو له ليرلو نه ډډه شوي اوهر راز عسكري تحركات متوقف شوي واي . برعكس څلور ورځي دمخه داسماعيليه فرقي مليشيا وو مشر چي په ائتلافي حكومت كي د رئيس جمهوردمعاون مقام ورته منل شوي ؤ.

دهغه دري زره مسلح كسان كابل ته ليرل شوي دي . ددوي يوگروپ سره له يوه جيپ موټر دري ورځي دمخه داوربند له خط نه دتيريدو په وخت نيول شوي وو او دوي دتحقيقاتو پروخت په دي باندي اعتراف كړي چي كابل ته دري زره كيباني مليشيا ليږدول شويده.

اودابي هم زياته كړي چي دهمدغوكسانو دليږلوله پاره ببرك كارمل شپږ ورځي دمخه دثورپه (١٤) نيټه پلخمري ته تللي دي.

اوهمدارنگه نجم الدين كاوياني ، فريدمزدك اوعبدالوكيل مزارته تللي اودمليشياقوتونومنظم اوزيات شميريي كابل ته راليږلي دي .په كار ده چي ددغومليشياو و سره متعهده ډله له دوي نه ځان بيل كړي. اوددوي له تخلفاتو څخه خپل برائت اعلان كړي نه دمليشياو دجنايتوتومسؤوليت قبول كړي او نه دهغوي پرخلاف دمجاهدينو كاروايي دځان پر خلاف وگني موږمجبوريوددغوتخلفاتو په هكله مناسب عكس العمل وښيو .په دي عكس العمل كي به ټول مخلص جهادي ځواكونه زموږترڅنگ وي.داځكه چي اوس ټولوته داحقيقت څرگندشوي چي په كابل كي دمليشياوو ټولي كارروايي دببرك كارمل اوسلطان علي كشتمند ترقيادت لاندي ترسره كيږي.